بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

دوشنبه ۲۲ رمضان ۱۴۴۰هـ　　۲۰۱۹-۰۵-۲۷م　　گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۰

مطبوعاتي اعلامیه

# امریکایي استعمار او د ډیموکراسۍ تطبیق د افغانستان خلک او رهبران سیاسي لار-ورکي کړي دي

په دې ورځو کې په افغانستان کې سیاسي ستونزې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې دي. د پارلمان لپاره د رييس ټاکلو مسئلې سخت اختلافونه راپارولي او د خلکو ترمنځ یې قومي بحثونه راپورته کړي دي. د جمهور رييس د کار دوره د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسېدلې. جمهوري ریاست ته کاندیدانو او د جمهور رييس مخالفینو د هغه د حکومت دوام نامشروع بللی او له واک څخه د هغه د استعفا غوښتونکي دي. دولت د سیاسي مخالفینو د اعتراضونو د مخنیوي لپاره پلازمېنه په نظامي اډه بدله کړې ده. د دولت د وسله والو مخالفینو پر سنګرونو او ملکي وګړو باندې د امریکایي ځواکونو هوايي بریدونه په بې ساري ډول زیات شوي، چې د ملکي وګړو او افغان امنیتي ځواکونو د سختو ځاني تلفاتو سبب شوي دي. امریکایان له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو پر مهال په افغانستان کې د القاعدې او داعش د فعالیتونو له پراخوالي خبر ورکوي. فقر، بېکارۍ، جنايي جرمونو او فساد چاقو د خلکو تر هډوکي رسولی او د ډالر پر وړاندې د افغانۍ قیمت په بې ساري توګه راټیټ شوی دی.

دې وضعیت عام وګړي، قومي مشران او سیاسي رهبران په سیاسي ډګر کې لار-ورکي کړي دي او له هغوی څخه یې د غوڅې پرېکړې اراده اخیستې ده. له همدې امله د افغانستان خلک له ناورین وروسته په ناورین اخته کیږي. خو هر جنایت او ترخه پېښه چې رامنځته کیږي، یوازې له احساساتي عکس العمل سره مخ کیږي. مګر له دغه وضعیت څخه د همېشني خلاصون په موخه له هرراز تدبیر او پرېکړې پرته، یادې ترخې پېښې او جنایتونه هېرېږي. سیاسي رهبران او خلک بېرته په ورځنیو کارونو باندې بوخت شي او د بل جنایت او فاجعې انتظار باسي. دغو ناورینونو خلک سره وېشلي او ددې سبب شوي، چې امریکا او د هغې مزدوران روان وضعیت د خپلو سیمه ییزو موخو لپاره د ټوپ وهلو د تختې په څېر وکاروي، خلک او سیاسي رهبران له هغو پېښو سره بوخت ساتي چې استعمار یې یوه پر بله پسې رامنځ ته کوي.

نو امریکا په افغانستان کې د کورني اړ دوړ د رامنځ ته کولو او سیاسي لار-ورکیتوب سیاست عملي کوي، ترڅو خلک مجبور کړي چې د هغوی حلالرو ته غاړه کېږدي. په داسې حال کې چې د دغو ټولو ناورینونو ریښه په امریکایي استعمار او د ډیموکراسۍ نظام په تطبیق کې ده او تر هغه چې د افغانستان مسلمانان د ډیموکراسۍ په ډګر کې – چې د هغوی د عقیدې او ارزښتونو خلاف دی – لوبیږي او سیاست کوي، دغه لار-ورکیتوب به همداسې دوام ومومي. ځکه هغه قوم چې د هغوی د عقیدې خلاف نظام ورباندې پلي کیږي، د هغوی د سیاسي ګنګستیا سبب کیږي. نو د افغانستان مسلمانان باید د داسې نظام د تاسیس لپاره هڅه او مبارزه وکړي چې چارې یې د اسلامي افکارو او ارزښتونو پر بنسټ سنبال او رهبري کړي، ترڅو په پایله کې له دغه اړ دوړ څخه خلاصون ومومي او د خپلواکې سیاسي ارادې او پرېکړې خاوندان شي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**